# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې ۱٦مه | د ۲۰۱۹ د فبروري پنځمه | دویم کال| ۳۳۰مه ګڼه


## عبدالله عبدالله: که د مسکو غونډه د بین الافغاني مذاکراتو زمینه برابره کړي، نو دا به ښه اقدام وي




د مسکو غونډه او د اصلي مخالفینو مخامخېدل ۲ مخ

افغان سوله؛ شخصي ګټې او ملي اندېښنه ۲ مخ

د سولې پسرلی ۳ مخ


## اسوشیټېډ پرېس: خلیلزاد له طالبانو سره د سولې پر سر هوکړې ته بېړه لري

د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد له طالبانو سره د جوړجاړي هوکړې ته بېړه لري.

اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس ویلي، د افغان سولې پر سره له طالبانو سره هوکړې ته د خلیلزاد بېړه د افغانستان د جګړې په اړه چې د امریکا په لوی ځاني او مالي لګښت تمامېږي، د ولسمشر ټرمپ له مایوسۍ سرچینه اخلي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د افغان سولې لپاره تر بل هر وخت هڅې چټکې شوې دي او په دې لړ کې خلیلزاد نه یوازې له طالبانو سره څو ځله خبرې کړې، بلکې نوموړي د پاکستان په ګډون د سیمې ځینو نورو هېوادونو ته هم سفرونه کړي دي.

که څه هم لا د سولې د هوکړې پوره او دقیق جزیات معلوم نه دي، خو خلیلزاد ویلي چې امریکا په افغانستان کې د ښځو حقونو، د قانون حاکمیت او د بیان ازادۍ ته ژمنه ده. د نوموړي په خبره، پر دې مسایلو به پخپله افغانان په خپلو کې خبرې او پرېکړې کوي.

بلخوا افغان ولسمشر محمد اشرف غني چې تر ډېره د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو په روانه پروسه کې بهر پاتې دی، د سولې د داسې هوکړې مخالفت کړی چې په بېړې سره کېږي، په افغانستان کې موقت حکومت ته زمینه برابروي او یا د ولسمشرۍ راتلونکې ټاکنې نورې هم ځنډوي.

اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس دې پوښتنې ته په ځواب کې چې ایا په افغانستان کې سوله ممکنه ده او که نه؟ لیکلي: «که څه هم امریکا او طالبان دواړه وايي چې په روانو خبرو کې زیات پرمختګ شوی دی، خو لا هم کومه موافقه نه ده شوې».

## له افغانستانه راوځو، خو استخبارات به مو هلته پاتې وي





۲ مخ


## څېره


۴ مخ


## سردار علي ټکر



کله چې سردار علي ټکر په پوهنتون کې محصل و، نو په هماغه وخت کې ورته د خپل پټ استعداد د ښرګندولو موقع برابره شوه.

په لومړیو ورځو کې یې خپل استعداد د خپلو دوستانو په ډله کې محدود ساتلی و او د پوهنتون او ملګرو د موسیقۍ په بېلابېلو غونډو کې یې ګډون کاوه.

## په بدخشان کې نږدې ۲۰۰ زره ټنه غنم راټول شوي دي



د بدخشان د کرنې ریاست وايي، سږ کال په دغه ولایت کې نږدې ۲۰۰ زره ټنه غنم راټول شوي دي.

د دغه ولایت د کرنې ریاست مشر سید معین‌الدین عیني پرون ازادي راډیو ته ویلي، چې د هېواد د نورو ولایتونو برعکس، سږ کال په بدخشان کې ډېره وچکالي نه وه چې له امله یې زیاته اندازه غنم راټول شوي دي.

د ښاغلي عیني په خبره، راټول شوي غنم یوازې په همدغه ولایت کې مصرفېږي، ځکه د ولایت نفوس زیات او د کرنیزو ځمکو په پرتله غرونه زیات لري. دې ته په کتو، باید دا غنم همدلته پاتې شي، څو د یاد ولایت د خلکو ستونزې حل کړي.

عیني زیاتوي، که په دغه ولایت کې ورښتونه همداسې دوام وکړي، راتلونکي کال کې به د کرنیزو محصولاتو کچه تر دې هم زیاته وي.

## پروگرام توزیع کوپون به ورثۀ شهدای نیروهای امنیتی افتتاح شد



رئیس جمهور غنی، با افتتاح پروگرام توزیع کوپون به خانواده های شهدای نیروهای امنیتی و دفاعی کشور گفته است، قهرمانانی که در راه دفاع از کشور قربانی داده اند، فراموش نمی‌شوند.

به نقل از خبرنامۀ ارگ، موافقت‌نامه توزیع کوپون به ورثۀ شهدای نیروهای امنیتی و دفاعی، دیروز در حضورداشت محمداشرف غنی رئیس جمهور، میان الهام عمر هوتکی و شیران جیلانی، امضا گردید.

در مراسمی که بدین مناسبت در قصر گل‌خانۀ ارگ برگزار شد و در آن بانوی اول کشور، شماری از اعضای کابینه و ورثۀ شهدای نیروهای امنیتی و دفاعی نیز حضور داشتند، پس از امضای موافقتنامۀ متذکره، الهام عمر هوتکی رئیس عمومی تدارکات ملی صحبت کرد و گفت که پروگرام توزیع کوپون از کمک‌های خارجی نه، بلکه از پول‌های صرفه جویی شده تدارکات ملی تمویل می گردد.

هوتکی گفته است که بعد از پروسۀ بایومتریک، ورثۀ شهدا از مغازه‌های تعیین‌شده مواد غذایی شامل کوپون را به دست آورده می‌توانند.

بعداً رئیس جمهور غنی، ضمن سپردن کتابچه کوپون به چهارتن به نمایندگی از ورثۀ شهدای نیروهای امنیتی و دفاعی، گفت: «مراسم امروزی به این خاطر برای ما ارزشمند است که امروز به یک تعهد دیگر در خصوص رسیدگی به ورثۀ شهدا عمل می‌نماییم و به شما اطمینان می‌دهم، قهرمانانی که در راه دفاع از کشور قربانی داده اند، فراموش نمی‌شوند».




## دریځ

### د مسکو غونډه او د اصلي مخالفینو مخامخېدل

نن تر ډېرشو ډېر افغان سیاستوال او د سیاسي گوندونو استازي په مسکو کې له طالبانو سره گډه غونډه کوي. طالبانو هم منلې چې غونډې ته به یې د شیرمحمد عباس ستانکزي په مشرۍ، لس کسیزی پلاوی ورځي او له افغان سیاستوال سره به پر سوله او د افغانستان پر راتلونکي خبرې کوي.
دې غونډې ته له کابله ورتلونکو کسانو هم په یوه گډه اعلامیه کې پرون ویلي وو چې دوی به له طالبانو سره خبرې وکړي، خو د نظام پایښت، د امنیتي ځواکونو دوام او ملي گټې ورته سرې کرښې دي او په دې تړاو له چا سره معامله نه کوي.
مسکو ته ورغلي کسان تر ډېره د وسله والو طالبانو اصلي مخالفین دي. که څه هم په دوی کې بې طرفه او طالب پلوي کسان هم شته، خو ډېری هغه کسان ورغلي چې له طالبانو سره له ۲۰۰۱ ز کال وړاندې هم جنگېدلي دي او له ۲۰۰۱ ز کال را وروسته یې هم د اوسني نظام بنسټ ایښی، دوی له طالبانو سره جنگېدلي دي او تل یې د هغوی مخالفت کړی دی. په دې سره په مسکو کې طالبان له خپلو سرسختو او اصلي مخالفینو سره مخ کېږي. په واقعیت کې له بهرنیانو پرته دا د جگړې اصلي لوري دي چې اوږدې دښمنۍ یې افغانستان دغه حالت ته را رسولی دی. اوس چې دا پاخه دښمنان سره کېني، دا یو مثبت پرمختگ دی. هغوی چې تر پرونه پورې یې یو بل وژل او اوږده جگړه یې وکړه، اوس فکر کوي چې کولی شي خپلې ستونزې د خبرو له لارې حل کړي او په همدې خاطر گډه غونډه کوي. دا ښیي چې د سولې لپاره له ټولو اړخونو تمایلات زیات شوي دي. په دې غونډه کې به اختلافات وي، طالبان به خپل دریځ تکراروي او بل لوری به پر خپل دریځ ټینگار کوي، خو له شک پرته داسې مسایل به هم پیدا شي چې دواړه لوري پرې توافق ولري. دا توافق پراخېدلی شي او ورو ورو پر هغو مسایلو هم توافق کېدلی شي چې اوس پرې اختلاف دی.
د سولې لپاره له هره اړخه هڅې باید چټکې شي، ځکه چې که موږ خپله د سولې هڅې ونه کړو، نو د سولې په نامه به یوه بهرنۍ لوبه را باندې وتپل شي. امریکا غواړي په افغانستان کې یو بدلون راولي او له همدې امله د امریکا ولسمشر پرون یو ځل بیا ټینگار کړی چې ځواکونه به له افغانستان څخه وباسي او یوازې په څارگرۍ به تکیه کوي. نو چې امریکا بدلون راولي او پلان لري، زموږ لپاره اړینه ده چې موږ هم د داسې بدلون هڅه وکړو چې پایله یې سوله شي او افغانستان له روانې جگړې و ایستل شي. د مسکو وروستۍ ناسته همداسې یوه هڅه ده چې باید ملاتړ یې وشي. له دې غونډې سره د ارگ چلند ناسم او د افغانستان په گټه نه دی، خو پرون اجرایه ریاست بیا ښه دریځ غوره کړ او تمه یې وښوده چې دا غونډه به مثبتې پایلې ولري. له همدې امله د دې غونډې د ملاتړ له لارې موږ کولی شو د افغانانو خپلمنځي تفاهمات زیات کړو او ښایي دا د حکومت او مخالفینو ترمنځ خبرو ته هم زمینه برابره کړي.

# افغان سوله؛

## شخصي گټې او ملي اندېښنه

لیکنه: مشتاق رحیم — بي بي سي پښتو

د امریکا حکومت له خوا د افغان سولې لپاره د ځانگړي استازي په توگه د زلمي خلیلزاد تر ټاکل کېدو را وروسته، د افغان سولې په بهیر کې ډراماټیک تېزوالی راغلی دی.
په تېرو څلورو میاشتو کې د خلیلزاد او طالبانو ترمنځ درې رسمي ناستې وشوې. د دغو ناستو وروستۍ غونډه په قطر کې د پلان خلاف شپږ ورځې روانه وه.
تمه دا وه چې کېدی شي دواړې خواوې کوم جوړجاړي ته ورسېږي او د سولې بهیر په لړ کې به ښکاره پرمختگ وشي، خو د تمې خلاف غونډه یوازې په مطبوعاتي بیانیو پای ته ورسېده. مطلب دا چې د سولې بهیر له ډېرو هلو ځلو وروسته هم دا مهال کوم ځانگړی لوری نه لري.
د قطر له وروستۍ ناستې وروسته د سولې د بهیر د برې په صورت کې د موقت حکومت جوړول تر ډېره د ولس او سیاستوالو ترمنځ د بحث لامل گرځېدلی دی.
ځینې سیاستوال او د هغوی پلویان سوله د موقت حکومت په بدل کې غوره جوړجاړی گڼي، خو د موقت حکومت طرحې د افغان ولس ترمنځ د نویمې لسیزې په پیل کې د مجاهدینو د تنظیمونو ترمنځ جوړ د موقت حکومت او له هغه وروسته خونړیو کورنیو جگړو غمجنې خاطرې را ژوندۍ کړې دي.
د افغانانو له کورني تاریخ اخوا، په نړیواله کچه هم د موقتو حکومتونو تجربه تر ډېره بریده ناکامه او د کورنیو جگړو لامل گرځېدلې ده .
په دې لړ کې د بېلگې په توگه د مرکزي افریقا جمهوریت او په سوېلي سوډان کې له خپلواکۍ وروسته ناکام موقت حکومتونه د یادونې وړ دي.

**د نظام ړنگول**

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر د پخواني مشر شیرمحمد عباس ستانکزي وروستیو خبرو، چې گوندي له سولې وروسته به ملي اردو منحل او نوې اردو به جوړه کړي، دا وېره پیدا کړې چې گوندي یو وار بیا به د افغانستان نظام له منځه یووړل شي.
په اوسني حالت کې د افغانستان حکومت او امریکا د سولې د بهیر په اړه سره یوه خوله نه دي. همدا راز د افغانستان حکومت او سیاستوال هم په دوو جلا کرښو کې ولاړ دي.
بل لور ته سیمه ییز لوبغاړي لکه روسیه او پاکستان د خپلو سیاسي موخو د ترلاسه کولو لپاره منډې ترړې وهي.
په دغه لړ کې د ده سلاکاران هر یو حنیف اتمر او اکرم خپلواک هغه کسان وو چې د سولې په برخه کې یې د افغان حکومت چارې په تېرو څلورو کلونو کې تنظیم کړې وې.
دغه وضعیت ته په کتو، په افغانستان کې د یوې تلپاتې سولې راتگ له ننگونو سره مخ دی.
د افغانستان حکومت د ۲۰۱۸ ز کال په لومړیو کې د سولې لپاره زړور گامونه پورته کړل چې له کبله یې طالبان تر خورا ډېر فشار لاندې راغلل.
خو وروستیو کړنو د حکومت د نېک نیت په اړه شکونه پیدا کړي. د بېلگې په توگه، افغان ولسمشر تېر کال د فبرورۍ په میاشت کې په کابل کنفرانس کې د بې قید او شرطه مذاکراتو وړاندیز وکړ، خو بیا یې په نومبر کې په جنیوا کنفرانس کې د سولې نوې نقشه چې خورا ډېرو وضاحتونو ته پکې اړتیا وه، وړاندې کړه.
همدا راز، د سولې د شورا په شتون کې د یوې خورا کمزورې مذاکراتي ډلې او د سولې د مشورتي بورډ د جوړېدو اعلانول، هغه گامونه وو چې د سولې ټول بهیر یې له یو څه گډوډۍ سره مخ کړ.
د یادونې وړ ده چې افغان ولسمشر د خپل ټیم ځینې هغه تکړه غړي هم د تېرو څو میاشتو په اوږدو کې له لاسه ورکړل، چې د سولې په څېر حساسو مسایلو کې یې شتون حکومت ته ډېر مهم و.

**دوه صفونه**


په دغه لړ کې د ده سلاکاران هر یو حنیف اتمر او اکرم خپلواک هغه کسان وو چې د سولې په برخه کې یې د افغان حکومت چارې په تېرو څلورو کلونو کې تنظیم کړې وې.
بلخوا د ولسمشر او د هېواد د ځینو سیاسي څېرو ترمنځ واټن چې له پخوا موجود و، د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو په درشل کې لا پسې پراخ شوی دی.
له همدې کبله دا مهال د سولې د بحث په لړ کې حکومت په یو صف او له حکومته د باندې سیاستوال بل صف کې لیدل کېږي.
طالبان باید په مذاکراتو کې د حکومت گټلو پرځای د خپلې مبارزې موخې چې له هېواده د بهرنیو پوځیانو ایستل دي، لومړیتوب وگرځوي.
د سیاستوالو وېش د افغان حکومت او سولې د بهیر لپاره ننگونه ده، خو د سولې د راتلونکو پړاوونو په اړه د دغو ډلو دریځونه هم د اندېښنې وړ دي چې د موقت حکومت ملاتړ یې په سر کې دی.
د سیاسي څېرو خپلسرو کړنو په لړ کې روانه اونۍ ځینې سیاسي مشران مسکو ته د بین‌الافغاني مذاکراتو تر عنوان لاندې د طالبانو او له بهره ورغلیو افغانانو سره ناسته لري.
په داسې یوه غونډه کې چې د افغانستان د حکومت رسمي استازي پکې حضور نه لري، د سیاسي نخبه گانو گډون د طالبانو هغه هڅه بریالۍ کوي چې غواړي د افغانستان نظام او حکومت حیثیت تر پوښتنې لاندې راولي او یا یې هم له بهیر څخه د باندې کړي.
دا ډول ناستې به هغه نظام چې د دفاع او پیاوړتیا لپاره یې افغانانو خورا ډېر تاوان گاللی، له سختو ننگونو سره مخ کړي.
بلخوا به دا ډول ناستې د عباس ستانکزي هغه طرحه هم پیاوړې کړي چې د افغان ملي پوځ د منحل کېدو په اړه یې په خپله وروستۍ مرکه کې یاده کړې وه.
که څه هم په کابل کې د روسیې سفارت اعلان کړی چې دا غونډه په مسکو کې مېشتو افغان کډوالو جوړه کړې او د روسیې حکومت کوم رول پکې نه لري، خو دا یوه مالومه خبره ده چې د روسیې په څېر هېواد کې دا ډول غونډې د حکومتونو له ملاتړ پرته شونې نه دي.
داسې مهال چې د افغانستان د سولې بهیر تر بل هر وخت ډېر حساس پړاو کې دی، اړینه ده چې افغان حکومت، سیاستوال او طالبان مسوولانه چلند وکړي.
حکومت چې دا اوس له سیاستوالو سره په یو ډول سړه جگړه کې ښکېل دی، د هېواد په کچه د ستر مسوول په توگه باید خپل د ولسمشرۍ ټاکنیز سیاست د سولې له سیاست څخه را بېل کړي او د سیاسي اجماع لپاره جدي کار وکړي.
د افغانستان حکومت د ۲۰۱۸ ز کال په لومړیو کې د سولې لپاره زړور گامونه پورته کړل چې له کبله یې طالبان تر خورا ډېر فشار لاندې راغلل.
سیاستوال دې هم له حکومت سره د مخالفت پر ځای د حالاتو حساسیت درک کړي او د سولې په چارو کې دې نظام اصل وگرځوي.
همدا راز، طالبان باید په مذاکراتو کې د حکومت گټلو پر ځای، د خپلې مبارزې موخې چې له هېواده د بهرنیو پوځیانو ایستل وو، لومړیتوب وگرځوي.
که داسې یې وکړل، نو ښایي ولس یوه ورځ حکومت دوی ته د سیاسي مبارزې په بدل کې ورکړي.
که په افغان کشاله کې د ښکېلو خواوو مشرتابه، خپلې موخې سره همغږې نه کړي او د شخصي گټو پرځای ملي گټې لومړۍ نه کړي، نو وېره ده چې افغانستان د نویمې لسیزې کورنۍ جگړې یو وار بیا ویني، خو توپیر به یې دا وي چې دا ځل ښایي د جگړې اور دومره تود وي چې ښایي ان د افغانستان وجود ته خطر پېښ کړي.
افغان ولس د سولې غوښتونکی دی، خو د یوې داسې سولې چې ثبات یې تضمین وي، د افغانستان راتلونکی برخلیک پکې روښانه وي، نه دا چې د تېرو تجربو په څېر موقت جوړجاړی وشي

## ټاکنو کمېسیون: شکایتونو کمېسیون دې ژر تر ژره خپله پرېکړه له موږ سره شریکه کړي



د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، شکایتونو کمېسیون باید ژر تر ژره د پاتې ۱۵ ولایتونو د ولسي جرگې د ټاکنو د وروستیو پایلو د اعلان لپاره د خپلو څېړنو په تړاو، خپله پرېکړه له دوی سره شریکه کړي.
د دغه کمېسیون مرستیال ویاند عبدالعزیز ابراهیمي ازادي راډیو ته ویلي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون ټول اسناد او شواهد د شکایتونو کمېسیون ته سپارلي، خو لا هم د شکایتونو کمېسیون د پاتې ولایتونو د وروستیو پایلو په اړه له دوی سره د خپلو څېړنو په تړاو پرېکړه نه ده شریکه کړې.
نوموړي ویلي: «موږ هیله من یو چې ژر تر ژره به د شکایتونو کمېسیون خپلې موندنې وروستۍ کړي او موږ ته یې را واستوي، ترڅو موږ د هغو له مخې د پاتې ولایتونو وروستۍ پایلې اعلان کړو او خرنگه چې تاسو پوهېږئ، دغې پروسې وخت ونیوه او په هېڅ لامل دا خبرې پلمه کېدای نه شي».
د نوموړي په خبره، تر دې دمه د ۱۸ ولایتونو د ولسي جرگې د ټاکنو وروستۍ پایلې اعلان شوې او د کابل په گډون، د ۱۵ نورو ولایتونو وروستۍ پایلې پاتې دي.
ابراهیمي ویلي، د لومړنیو پایلو له اعلان وروسته یې د ولسي جرگې د ټاکنو د پایلو نوملړ شکایتونو کمېسیون ته سپارلی و، چې په ټاکل شوي وخت په دې اړه اعتراضونه د قانون په چوکاټ کې وڅېړي او پایلې یې بېرته له دغه کمېسیون سره شریکې کړي.
له دې سره د شکایتونو کمېسیون کمېشنر نصیر فیاض ازادي راډیو ته ویلي، د پنځو نورو ولایتونو لوگر، غور، بادغیس، پکتیا او هرات څېړنې هم بشپړې شوې او د نورو ولایتونو پایلې به هم په راتلونکي کې بشپړې شي.
هغه زیاته کړې: «موږ هڅه کوو چې د ټاکل شوي قانوني وخت په مطابقت خپل کارونه خلاص کړو او اوس د پنځو ولایتونو کارونه بشپړ شوي او موږ هغه د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون په اختیار کې ورکړي، د شکایتونو حجم ته په کتو دغه پروسه وخت نیسي».

## ټرمپ: له افغانستانه راوځو، خو استخبارات به مو هلته پاتې وي



د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ یو ځل بیا ویلي چې له افغانستانه خپل سرتېري وباسي، خو هلته به یې استخباراتي مامورین پاتې وي.
ټرمپ دغه څرگندونې ورمه شپه له امریکایي ټلوېزیون ((C.B.S سره په یوه ځانگړې مرکه کې کړې دي او ویلي یې دي چې په افغانستان کې یې طالبان سخت ځپلي، هغوی له جگړې ستړې شوي او نور سوله غواړي. نوموړي په دې اړه زیاته کړې:« اوس نور د سولې وخت رارسېدلی. وبه گورو چې طالبان څه کوي. طالبان نور ټول ستړي دي، دا نا تمامېدونکې جگړه باید یو وخت ودرېږي.»
ټرمپ د دې پوښتنې په ځواب کې چې ایا لږ امریکایي سرتېري به په افغانستان کې پرېږدي؟ ویلي، چې ښایي لږ شمېر سرتېري پرېږدي، بیا په ځانگړي ډول استخباراتي مامورین.
د نوموړي په خبره، که چېرې دوی پوه شول چې په افغانستان کې ترهگر ځان ته د پټېدو ځایونه برابروي، نو پر ضد به یې اقدام وکړي.
ټرمپ دا نه دي ویلي چې د سرتېرو پر ایستلو کله پیل کوي او له دغه بهیر وروسته به څومره استخباراتي کارکوونکي په افغانستان کې پاتې کېږي.
خو هغه ټینگار کړی چې که اړ شول، بیا به هلته ځي، دوی ډېرې چټکې الوتکې لري، ژر بېرته ورگرځېدلی شي.
د امریکا ولسمشر په دغه مرکه کې یو ځل بیا په افغانستان کې د امریکا پر ډېرو لگښتونو نیوکې کړې او ویلي یې دي چې هلته د کال ۵۰ میلیارده ډالره لگښت لري.
هغه ویلي: «په افغانستان کې یې دومره زیات ډالر مصرف کړي چې نور هېوادونه یې دننه د روغتیا، تعلیم او نورو چارو کې نه مصرفوي».
ټرمپ دا څرگندونې په داسې حال کې کړې، چې د امریکا ځانگړی استازی زلمی خلیلزاد له تېرو څو میاشتو راهیسې له طالبانو سره پر خبرو بوخت دی.
په قطر کې د دوی د خبرو په وروستي پړاو کې پرمختگونه شوي او خلیلزاد هیله مندي ښودلې چې په راتلونکو ناستو کې به د ځینو نورو موضوعاتو په اړه هم پرمختگونه وشي.

# د سولې پسرلی

لیکنه: نصرت الله حقپال

په افغانستان کې د امریکا ۱۸ کلنه جګړه د دغه هېواد په تاریخ کې تر ټولو اوږده او نه ختمېدونکې جګړه ده. دغه جګړه له تروریزم سره د مبارزې او د طالبانو د نظام پر ضد د ۲۰۰۱ ز کال د اکتوبر په ۷مه پیل شوه چې تر اوسه روانه ده او په ترڅ کې یې د رپوټونو له مخې، تر ۳۰۰ زرو زیات افغانان وژل شوي دي.

ظاهراً، د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د دې اوږدې او نه ختمېدونکې جګړې د ختمولو او په افغانستان کې د تلپاتې سولې د ټینګښت او د خپلو پوځیانو د ایستلو لپاره، د روان ۱۳۹۷لمریز کال د وږي په ۱۳مه زلمی خلیلزاد د خپل مرکچي پلاوي مشر او ځانګړي استازي په توګه وټاکه، څو له طالبانو سره د سولې د راوستو او د جګړې د پای ته رسولو خبرې اترې پیل او مخته یوسي.

له هغې نېټې بیا تر نن پورې، د خلیلزاد پر مشرۍ امریکایي پلاوي د سیمې اغېزمنو هېوادونو ته څو ځله سفر کړی او له طالبانو سره یې څلور ځله ناستې او خبرې کړې دي، چې تر ټولو مهمه او اوږده هغه یې د روانې سلواغې میاشتې له ۱ تر ٦ پورې وه، چې ویل کېږي له ډېرو پرمختګونو او لاسته راوړنو ډکه وه. د دې ناستې جزیات دواړو، زلمي خلیلزاد او په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر پخواني مشر او اوسني مهم غړي، عباس ستانکزي په خپلو دوو بېلو- بېلو مرکو کې رسماً تایید او بربنډ کړل. د نورو مسایلو ترڅنګ، دوې اساسي برخې چې ورباندې په اصولو کې توافق شوی دی، له افغانستانه د امریکایي پوځیانو بشپړ وتل او دا چې د افغانستان خاوره به د تروریستي ډلو له خوا د امریکا او نورو هېوادونو په ضد نه کارول کېږي.

دې لړۍ د افغانانو په ذهن کې ډېرې سترې او اساسي پوښتنې را پیدا کړې دي او هېڅوک نه پوهېږي چې امریکا د څه شي په لټه کې ده؟ هغه څه چې د امریکا متحده ایالتونه د شعار په توګه او د عامه ذهنیت د مدیریت لپاره وایي، هیله مندي ورته شته، خو هغه څه چې جدي اندېښنې یې را ولاړې کړې دي، د امریکایانو دوه مخي او خپلو ژمنو ته نه پابندي ده.

د سولې په نامه د امریکا او طالبانو ترمنځ د روانې لړۍ لاندې موارد مهم او د پام وړ دي:

۱- هغه څه چې د سولې د خوږو او ټولغوښتونکې اصطلاح تر نامه لاندې روان دي، سوله نه ده. له سولې څخه د افغانانو او امریکایانو دوه بېل تعریفونه دي او ترمنځ یې ستر توپیر پروت دی. زموږ تعریف د جګړې مطلق بندېدل او د یوه ځواکمن او باثباته دولت رامنځته کېدل دي، خو امریکا د جګړې نوم، بڼه، جغرافیه، لوری او... بدلول غواړي او بس.

۲- د امریکا او غربي نړۍ عام ولس له دې جګړې سخت ستړی او په تنګ شوی دی، هر څومره ژر چې وي، د هغې د پای غوښتونکی دی. په ۲۰۲۰ ز کال کې د امریکا ولسمشریزې ټاکنې کېدونکې دي او امریکایي ولس به هغه نوماند ته رایه ورکوي، چې د افغان جګړې پای یې اعلان کړی وي. ولسمشر ټرمپ او همفکره کسان یې غواړي چې له افغان جګړې نه ستره ګټه پورته کړي او د امریکایي رایه ورکوونکو د رایې بانک خپل کړي او له دې مسئلې ابزاري ګټه واخلي، نو په همدې موخه غواړي چې له طالبانو سره یوې هوکړې ته ورسېږي. معنا دا چې جګړه به په ټوله معنا ختمه نه وي، بلکې بڼه، نوم، جغرافیه او ظاهر به یې تغیر کړی وي.

۳- د امریکایي سیاستوالو او پالیسي جوړوونکو له انده، طالبانو اوس د سیمې له مهمو هېوادونو او د امریکا له سیالانو لکه چین، روسیې، ایران او نورو سره اړیکې ټینګې کړې او که یې غم ونه خوړل شي، په راتلونکې که به د امریکا لپاره په یو سرخوږي بدل شي، نو اوس یې وخت دی چې په یوه سیاسي دام کې را ګیر او له تضعیف، تجزیې او بالاخره نابودۍ سره یې مخ کړي. د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره یې پاکستان، سعودي، امارات او ... ګومارلي او ښکاري چې طالبان یې په خطرناک دام کې را ګیر کړي دي.

۴- امریکا په هر قېمت چې وي، خپل سیاسي، نظامي او استخباراتي شتون ته په افغانستان او سیمه کې ادامه ورکوي. زما په اند، دا به یو خوب وي چې امریکا دې له خپل ښکېلاکي بهرني سیاست څخه په بشپړ ډول لاس واخلي او افغانستان دې په پوره معنا سره پرېږدي. دا مسئله له یک ټلوېزیون سره د خلیلزاد او له (C.B.S) سره د ولسمشر ټرمپ په وروستۍ مرکه کې ډېره ښکاره او واضح وه، خو د دې ډېر احتمال شته چې په دې مسئله کې امریکا، طالبان او افغان حکومت په ګډه عوام فرېبي وکړي او د سفارت د ساتونکو په نوم، یا د روزونکو په نوم، یا د تروریستي ډلو پر ضد د مبارزې په نوم سره خپل حضور ته ادامه ورکړي. د امریکا شتون، شتون دی. فرق نه کوي چې هغه یو ټولی وي او که یوه قول اردو.

۵- اوس خو امریکایانو او د دوی تبلیغاتي رسنیو د عامو افغانانو ذهنیت داسې تحریف او غولولی، چې که څوک وایي چې دا سوله نه ده، نو هر سړی ورته د قاتل، د سولې دښمن، د پاکستان جاسوس او ... په سترګه ګوري. په ۲۰۰۱ ز کال کې هم عین حالت و. هغه مهال داسې ذهنیت رامنځته شوی و چې د امریکا-ناټو په راتګ سره نور هر ډول ظلم، جګړه، بېوزلي، بی ثباتي او... ختم او افغانستان به ګُل او ګلزار وي. افغانان ملامت نه دي؛ ځکه چې ۴۰ کلنې جګړې دومره ځورولي، وژلي، ځپلي، خوار کړي او وروسته پاتې کړي چې هر څوک ورته د سولې نوم واخلي، له هر ډول فکر کولو او سنجولو پرته یې په لوري منډې وهي.

٦- که د امریکا په نوښت او مشرۍ د طالبانو، امریکا او په نهایت کې د افغان حکومت ترمنځ د سولې هوکړه لاسلیک او نور د ننني طالب په نوم جګړه ختمه شي، بیا به هم جنګ روان وي، خو د پاتې ۲۰ تر ۲۲ ډلو له ادرسه، دا ناشونې ده چې د طالبانو د تحریک ټول مشران او منځپوړي جنګیالي او قوماندانان دې خپله سلاح په ځمکه کېږدي او له حکومت سره دې یوځای شي. کېدای شي د طالبانو یوه برخه له هوکړې سره سم، سلاح کېږدي، خو پاتې ستره برخه به یې یا په همدې نوم او یا په کوم بل نوم سره او یا هم له کومې بلې ډلې، لکه داعش سره یوځای شي.

۷- که فرض کړو چې د یادو پورته درېو لورو (امریکا، طالبانو او حکومت) ترمنځ هوکړه وشوه، بیا هم د افغانستان پر راتلونکې سیاسي، اقتصادي او اجتماعي جوړښت باندې متفق کېدل، د حکومت او طالبانو د جنګیالیو یوځای کول او د متخاصمو لورو ترمنځ د قدرت وېش ساده خبره نه ده. دغه کار ته له ۳ تر ۴ کلونو وخت پکار دی. دغه انتقالي دوره به له سختو بې نظمیو، ستونزو، ناخوالو او کړاوونو ډکه وي.

په افغانستان او سیمه کې د امریکا نظامي او استخباراتي تګلارې ته په کتو، د واقعي سولې او ټیکاو راتګ ډېر لرې او حتی ناممکن ښکاري.

## عبدالله عبدالله: که د مسکو غونډه د بین الافغاني مذاکراتو زمینه برابره کړي، نو دا به ښه اقدام وي



په مسکو کې د افغان سولې په اړه ناستې د ملي یووالي حکومت د چارواکو غبرګونونه هم پارولي دي. تازه د ملي یووالي د حکومت اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله ویلي، چې د افغانستان د سولې په اړه هر ډول جوړېدونکې غونډې باید د افغان حکومت پر محوریت وي. عبدالله عبدالله تېره ورځ د رسنیو له مسوولانو سره د خبرو پر مهال د افغان سولې په اړه د پیل شوو هلوځلو په اړه خبرې وکړې. هغه وویل، افغان حکومت د سولې لپاره له ټولو هغو هڅو ملاتړ کوي چې د افغان حکومت پر محوریت جوړېږي او مشري یې افغانان وکړي.

نوموړي د مسکو ناستې ته په اشارې وویل، که د افغانستان سیاسي مشران په دې ناسته کې د حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرو ته زمینه برابره کړي، دا به د سولې پرمختګ لپاره مناسب اقدام وي. هغه ویلي، د سولې هڅې باید د افغانانو ګټې او عزت خوندي کړي او هیله یې څرګنده کړې چې دغه غونډه هم د بین الافغاني مذاکراتو زمینه برابره کړي.

عبدالله عبدالله د امریکایي ځواکونو د وتلو په اړه هم وویل، چې امریکایي ځواکونه به بالاخره له افغانستانه وځي. د ده په خبره، د امریکا او افغانستان ترمنځ هېڅ داسې سند نشته چې له مخې به یې امریکایي ځواکونه د اوږدمهال لپاره په افغانستان کې پاتې شي او یا دغه ځواکونو ته دایمي اډې ورکړل شي. د ده په خبره: «امریکایي ځواکونه بالاخره وځي. هېڅ داسې سند نشته چې موږ وواېو دغه ځواکونه د تل لپاره په افغانستان کې پاتې کېږي. دوی د ترهګرو تر فعالیت پورې دلته دي او د دایمي حضور یا دایمي اډو کوم سند موږ نه دی ورسره لاسلیک کړی.»

نوموړي همدا راز ویلي، چې افغان ځواکونه د ترهګرۍ د تهدیداتو پر وړاندې د مبارزې وړتیا لري او که بهرني ځواکونه وځي، نو افغان پوځیان د دې وړتیا لري چې له خپل هېواده دفاع وکړي. د عبدالله عبدالله په خبره: «که امریکایي ځواکونه وځي، نو دنیا خو پای ته نه ده رسېدلې، موږ خپل پوځ لرو، پر دوی تکیه کوو، دوی کولی شي له خپلې خاورې دفاع وکړي».

عبدالله عبدالله د خپلو خبرو پر دوام وویل، چې د افغان سولې په اړه سیمه ییزه اجماع پیاوړې شوې ده او همدا چې د افغانانو ترمنځ د خبرو زمینه برابره شي او د سولې خبرې یوې پایلې ته ورسېږي، ټول اړخونه به قربانیو ته تیار شي. د ده په خبره، د سولې راتګ د بېړې کار نه دی او پراخې حوصلې ته اړتیا لري.

عبدالله عبدالله داسې مهال د سولې او مسکو د غونډې په اړه خبرې کړې، چې ټاکل شوې دا غونډه نن د روسیې په پلازمېنه کې د افغان سیاسیونو په ګډون جوړه شي. طالبانو په یوه خپره کړې اعلامیه کې ویلي وو، چې د افغان حکومت له استازو پرته نور د افغانستان له ټولو لورو سره د مسکو په غونډه کې خبرې کوي. دوی د شیرعباس ستانکزي په مشرۍ د یوه لسیز کسیز پلاوي د لېږلو خبره هم کړې ده. په دغه غونډه کې د افغانستان مطرحو سیاسي څېرو برخه اخیستې ده.

دوی تېره ورځ په یوه ګډه اعلامیه کې ویلي وو، چې د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې خبرو زمینې برابرولو ته دا لومړنی ګام دی. د دوی په خبره، د افغانستان د اوسني نظام تقویت یې د بحث اصلي محور دی او موخه یې دا ده چې ښکېل لوري بین الافغاني خبرو ته وهڅوي.

## راپورونه: روسیه، ایران او ترکیه په سوچي کې د سوریې پر وضعیت بحث کوي



د ترکیې او روسیې دولتي رسنیو ویلي چې د روسیې، ایران او ترکیې ولسمشران به د روسیې په سوچي ښار کې د سوریې پر وضعیت بحث وکړي.

د رسنیو د راپورونو له مخې، د تور سمندرګي په دغه ساحلي ښار کې به دغه غونډه د روانې زېږدیزې میاشتې په ۱۴مه وشي.

په دغو راپورونو کې ویل شوي چې د روسیې د ولسمشر ولادیمیر پوتین، د هغه د ترکیې سیال رجب طیب اردوغان او ایراني سیال حسن روحاني د پلان شوې غونډې په اړه نور جزیات نه دي ورکړل شوي، چې دغه درې مشران به پر سوریې د بحث ترڅنګ، پر نورو کومو موضوعاتو خبرې اترې وکړي.

خو د روسیې «NTV» ټلوېزیون بیا ویلي چې دغه مشران به د سوریې په ادلیب ولایت کې د هغو ساحو په شاوخوا کې د روان وضعیت په تړاو بحث وکړي، چې د امن ساحې بلل کېږي. دغه ټلوېزیون ویلي، درې واړه ولسمشران به له جګړې ځپلې سوریې څخه د امریکایي ځواکونو د احتمالي وتلو په اړه هم بحث وکړي.

دغو درېو واړو هېوادونو ویلي چې دوی د سوریې د ۷ کلنې کورنۍ جګړې د پای ته رسېدو لپاره سیاسي حل غواړي.

که څه هم مسکو او تهران د سوریې د ولسمشر بشارالاسد ملاتړ کوي، خو ترکیه او امریکا بیا د بېلابېلو یاغي ډلو تر شا ولاړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د تېر ۲۰۱۸ ز کال په ډسمبر کې د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ اعلان وکړ چې په سوریه کې یې داعش او نورې تروریستي ډلې ځپلې او غواړي خپل ځواکونه له دغه هېواده بېرته امریکا ته راستانه کړي. نوموړي د متحده ایالتونو دفاع وزارت ته دنده وسپارله چې له سوریې د ځواکونو ایستلو ته پلان جوړ کړي، خو د ټرمپ دغه پرېکړه د کانګرېس د یو شمېر غړو او سیاسیونو له غبرګون سره مخ شوه چې له همدې کبله د دغه هېواد د دفاع پخواني وزیر جیمز مټیس له خپلې دندې استعفا هم وکړه.

## د کتاب خبرې

# د لوی فکر جادو

لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارټز
ژباړن: میراحمد یاد

### څلورم څپرکی
### لوی فکر به څنګه کوو؟




موږ ته چې خلک کوم ارزښت راکوي، دا هماغه ارزښت دی چې موږ یې ځانته خپله ورکوو.

لاندې ځینې بېلګې راغلې دي، دا یو قوت درکوي، داسې قوت چې راتلونکې کې ممکن شیان پرې ووینئ، ما دا تمرینونه (روزنیز ارزښت ورکول) نومولي دي:

۱) د هر شي ارزښت لوړوئ، د هغه کرنیزې څمکې بېلګه رایاده کړئ. له ځانه پوښتنه وکړئ چې د دې کور یا کوټې ارزښت څنګه لوړولای شم؟ داسې نوې مفکورې ولټوئ چې شیانو ته ارزښت ورکړي. که څمکه وي، که کور وي او که وچه ګیاه وي، ارزښت یې د کارونې یا استعمال د طرحو پر اساس سنجول کېږي، یعنې دا چې څنګه او څومره ګټه ترې اخیستل کېدای شي.

۲) د انسانانو ارزښت لوړ کړئ. څومره پرمختګ چې کوئ، هومره به له ډېرو خلکو سره مخ کېږئ، له ځانه وپوښتئ چې: (څنګه پر ځان د تر لاس لاندې خلکو باور زیاتولای شم؟ څنګه مرسته ورسره کولای شم چې اغېزناک شي؟) دا یاد ساتئ چې که د یوه کس ارزښت ښودل غواړئ، نو لومړی یې باید ارزښتونه وپېژنئ.

۳) خپل ارزښت لوړ کړئ. هره ورځ له ځان سره یوه مرکه وکړئ، پوښتنه وکړئ: نن د ځان ارزښتمنولو لپاره څه کولای شم؟) څنګه چې یئ، ځان داسې مه ګورئ، بلکې هغسې یې وګورئ، څنګه چې ځان غواړئ. که داسې وکړئ، نو په هغو لارو به سم شئ چې تاسې خپلو بالقوه ارزښتونو ته رسولای شي، دا تجربه کړئ او پایلې یې وګورئ.

یو کس و، مطبعه یې لرله او شپېتو تنو ورسره کار کاوه، یوه ورځ یې راته کیسه وکړه چې خپل ځای ناستی یې څنګه ټاکلی دی:

(پنځه کاله وړاندې په یوه پلټونکي (Auditor) پسې ګرځېدم، چې زما د دفتر حسابونه له سره وارزوي. د هېري په نوم یو کس مې وګوماره، هېري شپږ ویشت کلن و. د چاپ او مطبعې په چارو نه پوهېده، خو له اسنادو یې برېښېده چې تکړه حسابدار دی، زه چې یو نیم کال وړاندې تقاعد کېدم، نو همدا کس مې د خپل شرکت اجرائیوي رئیس وټاکه. که رښتیا درته ووایم دې ځوان هلک یو خاصیت درلود او دا خاصیت په هر چا کې نه وي، هېري نه یوازې له حسابدارۍ، بلکې د شرکت له ټولو چارو سره ډېره زیاته علاقه درلوده. هغه به چې څنګه فرصت پیدا کړ، د بل کارکوونکي مرستې ته به یې ور ودانګل. هیري چې په کوم کال راغی، زموږ د شرکت څو کارکوونکي لاړل، هیري د کارکوونکو معاشونو او امتیازاتو ورکولو لپاره یو پلان جوړ کړ او ژمنه یې وکړه چې د کارکوونکو ځای پر ځای کولو لګښت به راکموي، رښتیا یې راکم هم کړ.

ده به چې هر کار کاوه، نه یوازې د همدې برخې چارې به سمبېدې، بلکې ټول شرکت ته به یې ګټه رسوله. هیري د تولید لګښتونه ښه دقیق وڅېړل او دا یې ثابته کړه چې په نویو ماشینونو دېرش زره ډالر پانګونه راته اغېزناک ده. زموږ د خرڅلاو کچه چې بیخي ټیټه شوې وه، هیري د خرڅلاو مدیر ته وویل: (زه د خرڅلاو د چارو په جزیاتو نه پوهېږم، خو خپله هڅه به وکړم او پکې بریالی هم شو. هیري څو طرحې ورکړې چې په هرې یوې موږ ډېر کار پیدا کړ.

موږ ته به چې نوی کارمند راغی، هیري به ورسره مرسته کوله چې له نوي چاپېریال سره بلد شي او د هغه له ټولو چاسره به یې ډېره زیاته علاقه ښودله.

زه چې تقاعد شوم، نو هیري د چارو سمبالولو لپاره تر ټولو ښه بدیل ښکارېده.

خو ستاسې زړه کې څه و نه ګرځي، هیري خپله نه غوښتل چې دې ځای ته راشي. هیري داسې کس نه و چې کارونه دې ګډوډ کړي او بیا یې دې پرېږدي. څېړنې او پلټنې یې منفي نه وي، غیبت یې نه کاوه، په خلکو به یې هسې امرونه او حکمونه نه کول، هر وخت به د نورو مرستې ته لاس په سینه ولاړ و. ډېر نرم او راحته چلند به یې کاوه، لکه دفتر کې چې ټول خلک د ده مینه وال وي، هیري د شرکت کار خپل شخصي کار باله.

هیري موږ ته ښه الګوه ده. که موږ ووایو چې: (ما خپل کار وکړ او نور یې کیسه کې نه یم)، نو دا منفي او کوچنی فکر دی. د لوی فکر خاوندان ځان د یوه ټیم غړی بولي او باور لري چې په یوازې سر نه، بلکې د همدې ټیم یا ډلې په مرسته یې ګټلای یا بایللای شي. داسې خلک مرسته کوي، دې ته نه ګوري چې ګټه او بدیل به یې څه وي، دې ته نه ګوري چې څوک به یې وهڅوي که نه. کوم خلک چې یوازې د خپل سر اور مړ کوي او وایي چې زه یې نور په کیسه کې نه یم، هر څوک دې خپل غم کوي؛ داسې خلک مدیریتي فکر نه لري.

پر دې عمل وکړئ: لوی فکر وکړئ! د ادارې ګټې خپلې ګټې وګڼئ. ښایي لږ شمېر خلک د خپل شرکت له چارو سره د زړه له تله او بې ریا لېوالتیا ولري، دا طبعي خبره ده، ځکه لږ شمېر خلک لوی فکر کولای شي، خو دا لږ شمېر خلک هماغه دي چې بلاخره لوړو موقفونو ته رسېږي.

داسې انسانان ډېر دي چې بالقوه وړتیا او انرژي لري، خو ځان یې په وړو او بې ارزښته مسائلو کې ښکېل کړی او د خپل پرمختګ مخه یې ډب کړې ده. **دوام لري...**

# سردار علي ټکر

حکمت ارین



سردار علي ټکر په ۱۹۵٦ ز کال کې د مردان د تخت بايي سيمې د ټکر په کلي کې دې نړۍ سترګې ته پرانيستې دي. نوموړي تر لسم ټولګي پورې خپلې لومړنۍ زده کړې په خپل کلي کې سر ته رسولې دي او بيا يې د مردان په دولتي پوهنځي کې په ساينسي مضامينو کې د څوارلسم ټولګي بريليک ترلاسه کړی دی. تر دې وروسته، د پېښور پوهنتون د انجنيري پوهنځي ته لاړ او هلته يې د ماشيني تخنيک په څانګه کې زده کړې وکړې. کله يې چې دا پوهنځی په برياليتوب سره پای ته ورساوه، بيا يې په برېټانيا او کاناډا هېوادونو کې ځينې ځانګړي کورسونه هم ووېل او اوس د پښتو ژبې د يو پياوړي او نامتو سندرغاړي او غزلبول په نوم پېژندل کېږي.

کله چې سردار علي ټکر په پوهنتون کې زده کړيال و، نو په هماغه وخت کې ورته د خپل پټ استعداد د څرګندولو موقعه برابره شوه. په لومړيو ورځو کې يې خپل استعداد د خپلو دوستانو په ډله کې محدود ساتلی و او د پوهنتون او ملګرو د موسيقۍ په بېلابېلو غونډو کې يې ګډون کاوه. خو کله چې په ۱۹۸۲ ز کال کې د پېښور د ايډورډ پوهنځي د تاريخ د څانګې پروفيسور، يارمحمد مغموم د پښتو ژبې فلسفي شاعر غني خان لپاره يو محفل جوړ کړی و او په هماغه مهال نوموړی پروفيسور د يوه داسې سندرغاړي په لټه کې و چې د غني خان شعرونه په سندرو او موسيقۍ کې لا نور ښکلي کړي، نو په همدې وخت کې سردار علي ټکر په دې خبر شو او له ځان سره يې دا پرېکړه وکړه چې دی به په دې غونډه کې سندرې وايي.

دا هماغه غونډه وه چې سردار علي ټکر يې د لومړي ځل لپاره د ډېرو خلکو په مخ کې خپل فن او هنر ښکاره کړ چې ډېرو خلکو د هغه د سندرو کسټونه ثبت کړل او لږ وخت وروسته همدغو ټيپي کسټونو په بازار کې مينوال وموندل او سردار علي ټکر نوم او شهرت پيدا کړ.

تر دې وروسته د لومړي ځل لپاره سردار علي ټکر د پېښور راډيو په يوه خپرونه کې چې د زلمي کول په نامه يادېده، دوه غزلې ووېلې. په راډيو کې له سندرو ويلو وروسته يې د پاکستان پي ټي وي ټلوېزيون ته لار وموندله او هلته يې هم سندرې ثبت کړې.

په ۱۹۸۴ ز کال کې سردار علي ټکر ازادې خاورې افغانستان ته راغی او دلته له سفر کولو سره يې د هغو شاعرانو د شعرونو ويلو چانس ترلاسه کړ، کوم چې پاکستان کې ورباندې بنديز لګېدلی و. په افغانستان کې پاتې کېدل او دلته په ټلوېزيون کې سندرو ويلو نور هم د سردار علي ټکر په شهرت کې زياتونه وکړه.

سردار علي ټکر د پښتنو د سترو مبارزينو په قطار کې هم راځي چې د دغه قوم د عزت او وقار ساتلو په برخه کې يې خورا ډېرې هڅې کړې دي. نوموړی يو له هغو کسانو څخه دی چې د پښتنو پر وړاندې د پاکستاني حکومت سياستونو يې سخت زړه سټری کړی دی. دی په يوه مرکه کې د پښتنو پر وړاندې د پاکستان د حکومت د تعصوبونو په اړه غږېدلی دی.

نوموړی په پيل کې د دې پوښتنې په ځواب کې چې پښتنو د کرښې هاغاړه د انګرېز پر وړاندې مبارزه د څه لپاره وکړه، وايي چې د کرښې هاغاړې پښتنو لپاره هېڅ هغه حقونه نه دي برابر شوي، کوم چې د دوی حق دی او بايد ورکړل شوي وی. نوموړی په پاکستاني نصاب کې د پښتو د نشتوالي له امله هم خواشينی دی او وايي، د محکومې خاورې د پښتنو لپاره چې پاکستان يې د ځان برخه هم بولي، ولې دغو خلکو ته نه يوازې دا چې نور حقونه يې نه دي ورکړي، بلکې په نصاب کې هم ورسره تعصب کوي او حتی يو پښتو مضمون هم پکې نشته. نوموړی دا کار د پښتو ژبې د له منځه وړلو لپاره د پاکستان يو چل او فريب بولي چې له کلونو کلونو راپدېخوا ورسره دا ظلم کېږي.

ښاغلی ټکر اوس په امريکا کې اوسي او د پښتونخوا لپاره د امريکا غږ پښتو څانګې سره کار کوي، نوموړي په دې وروستيو کې له يو څه وخت دمې وروسته، د پښتو د کلاسيکو شاعرانو لکه، رحمان بابا، خوشحال خان خټک، حميد مومند او نورو شاعرانو د شعرونو ويلو ته ملا تړلې ده، چې دی يې لامل د دغو شاعرانو د شعرونو خوندي کول او تر نورو يې رسول بولي.

د پښتو موسيقۍ په ډګر کې د ښاغلي ټکر خدمتونه د هېچا له سترګو هم پټ نه دي او ټول پښتانه يې د کړيو خدمتونو منندوی دي او بايد واوسي، ځکه هغه په دې اوږده مزل کې خورا ډېرې سټړې ګاللې دي او په داسې يوه ټولنه کې يې خپل هنر ته غاړه ورکړې، چې موسيقي عار او شرم بولي. نوموړی په دغه ډګر کې د خپلو نه هېرېدونکو خدمتونو په پايله کې ډېرې لاسته راوړنې هم لرلې دي. نوموړي ته په دې برخه کې ډېرې جايزې هم ورکړل شوې دي چې په پښتونخوا کې يې د فرايډ اف پرفارمنس جايزه د يادولو وړ ده.

ټکر د پښتنو سندرغاړو يو له هغو نامتو سندرغاړو څخه دی چې هم يې په غزل او هم نظم برخه کې ټول هغه شعرونه پښتو ژبې ته وړاندې کړي دي، چې هر شعر يې د ويښتابه پياوړی پيغام لري.

نوموړی اوس په امريکا کې اوسي، د پښتنو يو ځای کېدل او نور د کرښې دواړو غاړو ته په دې حال کې پاتې کېدل د نوموړي په خبره، د پښتون قوم د تباهۍ لامل کېږي.

پښتو ژبې ته خدمت او د نړۍ له نورو ژبو سره علمي سيالي د نوموړي غټ ارمانونه دي. ټکر وايي، د پښتون قوم عزت په يووالي کې دی، نور بايد له خپل منځي اختلافونو تېر شي او د خپلې ازادې خاورې افغانستان لپاره بايد کار وکړي.

همیانی

# څنګه له خپلې ټولې انرژۍ ګټه واخلو؟

ژباړه: امان الله«حنیفي»

له خپلې ټولې انرژۍ استفاده په دې مانا ده چې څنګه په بېلابېلو شرایطو کې له خپلو فعالیتونو ښه پایله لاسته راوړ. له ټولې انرژۍ استفاده په دې مانا چې څنګه په کم وخت کې ډېر څه ترسره کړو او هغه پایله لاسته راوړو، چې موږ يې غواړو.

هرڅه بالاخره په یوه پایله پای ته رسېږي، خو د ښې پایلې د لاسته راوړلو لپاره باید له هرڅه مخکې خپله موږ ځان کې تغیر راولو، چې همدا د نویو او مثبتو تغیراتو راوستل زموږ ټوله انرژي را ژوندۍ کوي، خو دقیقاً څنګه کولای شو له خپلې ټولې انرژۍ ګټه واخلو؟

لومړی موږ باید دا وپېژنو چې موږ چېرته قرار لرو او زموږ فعلي ځای کوم دی، وروسته له هغې هغه ځای او موخه مو مشخصه کړئ، چې غواړئ ورته ورسېږی او بالاخره خپلو موخو ته د رسېدو لاره یا پلان جوړ کړئ. کېدای شي تاسې په خپل کسب او کار کې د ښه پرمختګ لپاره پلان جوړکړی او له خپلې ټولې انرژۍ استفاده وکړی، یا کېدای شي د زده کړو، ترفېع اخیستلو او یا هم د ژوند په نورو برخو کې د بریا لاسته راوړلو لپاره پلان جوړ کړی.

ښه ده چې دا پلان له ځانه د دغو پوښتنو په پوښتلو سر ه پیل کړئ:

همدا اوس مو ژوند په کومه کچه کې دی او کومو موخو ته رسېدل غواړئ؟

همدا اوس د خپل فعلي موقف په اړه څه احساس لری او دغه ځای ته له رسېدو سره مو څه لاسته راوړي دي؟

همدا اوس هره ورځ څومره هڅه کوی او څه لاسته راوړی؟

د کوم کار له سرته رسولو خوښېږی او کوم ځای ته باید ورسېږی څو ارام او د خوښۍ احساس وکړی؟

همدا اوس مو هڅې په کومه کچه کې دي؟

کومه موخه لری چې د رسېدو لپاره ورته هڅه وکړی؟

دقیقاً کومې برخې دي چې تاسې د پوره انرژۍ درلودو احساس پکې کوی؟

ولې دا احساس کوی؟ څه د دې سبب شوي چې تر اوسه مې دغو برخو کې پرمختګ نه دی کړی؟

څنګه کولای شی له خپلې ټولې انرژۍ ګټه واخلی او هغې پایلې ته ورسېږی چې زړه مو غواړي؟


څنګه کولای شی له خپلو تېرو ماتو او لاسته راوړنو یوه انګېزه واخلی او د خپلې ښې راتلونکې لپاره ترې استفاده وکړي؟

د خپلو فردي وړتیاوو ځواکمنول به په کومه اندازه د خپلې خوښې وړ موخو په لاسته راوړلو کې درسره مرسته وکړي؟

له خپلې ټولې انرژۍ د ګټې اخیستو په پار باید خپل فردي مهارتونه پیاوړي کړئ. دا مهارتونه هغه وخت پیاوړي کولی شی چې خپل فردي او هغه ټولنیز مسوولیتونه چې په تاسې پورې اړه لري، ومنی.

تر اوسه مو چې څه لاسته راوړي، دا مو ټول د خپلو تېرو غوښتنو او هڅو پایله ده، که د ځان لپاره کم او په ټیټه کچه معیارونه وټاکی، پایلې به مو هم همدې ټاکنې ته ورته وي.

د خپلو فردي وړتیاوو پیاوړي کول، د دې چانس هم په لاس درکوي، څو بیا په




کاري چاپېریال کې هم په ښه او بریالۍ توګه کارونه مخکې یوسی. کله چې فردي ځانګړتیاوې پیاوړې کړی، نو موخې او هدفونه مو هم په ټیټه سطحه کې نه پاتې کېږي. د ټیټو موخو پر ځای د ځان لپاره لوړ او تر دې ښه هدفونه ټاکئ او د ورته رسېدو لپاره يې په هماغه اندازه زیاتې هڅې کوی.

د خپلو فردي وړتیاوو ځواکمنول، خپلو موخو ته د رسېدو لومړی اساسي ګام دی. که مو دا ګام په دقت او پوره ځواکمنتیا کېښود، حتمن به موخې ته رسېږی.

له خپلې ټولې انرژۍ ګټه اخیستل د نورو لارو چارو ترڅنګ، د دغو دوو اصولو په رعایتولو پورې هم تړلي دي: د دندې پر مخ بېولو باندې ښه پوهاوی لرل او له خپل توان سره سم مسوولیت اخیستل.

هر کار چې سرته رسوی، باید له خپلې وړتیا او توان سره مو برابر وي، دا په دې مانا نه چې تاسې د خپلو کمزوریو په لټه کې شی، بلکې د یو کار له سرته رسولو سره سم مو د هغو نیمګړتیاوو د پوره کولو هڅه هم وکړئ، کومې چې د یو کار سرته رسولو په وخت ستاسې په مخ کې خنډ کېږي.

د هغه کارپه اړه د پوره معلومات لرل چې تاسې يې سرته رسوی، له تاسې سره د همغه کار په کولو کې ۵۰ سلنه مرسته کولای شي. کله چې د یو کار په اړه معلومات نه لری، هېڅ يې مه سرته رسوی.

دا بیا درته سرخوږی پیداکوي. مخکې له مخکې د یو کار په اړه ښه معلومات ترلاسه کړئ، بیا یې وروسته سرته ورسوئ.

هڅه وکړئ چې نوي کارونه سرته ورسوی، داسې چې ورځ تر بلې د پرمختګ احساس پکې وکړی. د نویو او متفاوتو کارونو سرته رسول، ستاسې په وجود کې شته انرژي په خوځښت راولي.

هڅه وکړئ چې ځان کې مو د سیالۍ کولو حس را ژوندی کړی. هره ورځ دا هڅه وکړئ چې د پرونۍ ورځې په پرتله مو نن خپلو موخو ته نږدې شی. که له نورو سره سالمه سیالي ونه کړی، پرمختګ نه شی کولای او چې پرمختګ ونه کړی، په ژوند کې مو بدلون نه شی راوستی.

له نورو سره سیالي کول مو دې ته هڅوي، څو مو وجود کې له شته ټولې انرژۍ ګټه واخلی.

خپلو کارونو یا موخو ته د رسېدو لپاره مو پلان جوړ کړئ. ډېرې هڅې او کار کول له خپلې ټولې انرژۍ د ګټې اخیستو په مانا نه ده، بلکې ورځ تر بلې او په منظم ډول خپلو موخو ته رسېدل، له ټولې انرژۍ د پوره ګټې اخیستو مانا ورکوي.

هڅه وکړئ چې د نورو فعالیتونو ترڅنګ مو، د ورځې په اوږدو کې ورزش ته هم وخت ورکړی. منظم او په ورځني ډول ورزش کول مو له وجوده ټوله ستړیا وباسي. کله چې بیا کار یا دندې ته ځی، تاسې به تازه او ریپرش وی، چې په دې ډول به مو هم له کار کولو خوند اخلی او هم به ورځ تر بلې خپلې موخې ته نږدې کېږی.

څېړنې ښيي، هغه کسان چې په منظم ډول هره ورځ ورزش کوي، د هغو کسانو په پرتله چې ورزش نه کوي، له ژونده په څو څو واري زیات خوند اخلي. نه یوازې زیات خوند اخلي، بلکې د هغوی په پرتله اوږد ژوند هم کوي.

## عبدالله: سیاسي مشران باید د مسکو په غونډه کې د دولت مجبوریت په پام کې ونیسي

اجرایه رییس عبدالله عبدالله ویلي، سیاسي مشران باید د افغان سولې په تړاو د مسکو په غونډه کې د دولت مجبوریت له پامه ونه غورځوي.

عبدالله تېره ورځ د رسنیو له استازو سره په خبرو کې ویلي، هغه سیاسي مشران چې د افغانستان د نظام تر سیوري لاندې ژوند کوي، د سولې په څېر په مهمو ملي مسایلو کې باید له حکومت سره خپل سیاسي مخالفتونه څنګ ته پرېږدي.

اجرایه رییس د مسکو په غونډه کې د ځینو افغان سیاسي مشرانو ګډون د هغوی حق بللی او ویلي يې دي: «که د دولت مجبوریت له پامه وغورځوو، یو چتر چې تر لاندې يې د ټولو خلکو دفاع باید وشي، که دا له پامه وغورځوو او په خپله يې نفي کړو... او خلکو ته دا انګېرنه ورکړو، دا به د طالبانو چې پرته له هغې هم ضدي دي او د افغانانو له برخلیک سره يې ضدي چلند کړی دی، د هغوی د لا ضدي کېدو سره به مرسته وکړي. دا ټکی باید له یاده ونه باسو.»



د افغان سولې په تړاو، د مسکو غونډه کې د افغان سیاسي مشرانو ګډون وروسته له هغې غبرګونونه راپارولي دي چې په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر پخواني مشر شیرمحمد عباس ستانکزي په خپله وروستۍ مرکه کې له افغان حکومت سره د سولې د خبرو پر ځای له سیاسي، مذهبي او د ګوندونو له مشرانو سره پر خبرو ټینګار کړی دی.

روسي چارواکو ویلي، د مسکو غونډه د افغان کډوالو د یوې ټولنې په نوښت جوړېږي او د روسیې حکومت پکې هېڅ رول نه لري.

په دې غونډه کې د طالبانو استازو او د پخواني ولسمشر حامد کرزي په ګډون د افغان حکومت شاوخوا ۳۸ سیاسي مخالفانو ته د ګډون بلنه ورکړل شوې ده. ټاکل شوې چې د مسکو غونډه نن په روسیه کې جوړه شي او دوې ورځې به دوام وکړي. افغان حکومت په دې غونډه کې له ګډون کولو ډډه کړې او ویلي يې دي چې دا غونډه د سولې له بهیر سره مرسته نه کوي.

## ولسمشر غني: نور به د افغانستان الوتکې او ټانګونه پر ګاونډیانو نه خرڅېږي

ولسمشر محمد اشرف غني یو ځل بیا ټینګار کړی چې له وسله والو طالبانو سره په هر ډول سوله او جوړجاړي کې د افغانستان د ملي ځواکونو برخلیک باید تضمین شي. نوموړي پرون په کابل کې یوې غونډې ته وویل، نور به د افغانستان ټانګونه او الوتکې پر ګاونډیو هېوادونو نه خرڅېږي. ولسمشر غني په ارګ کې د وژل شویو امنیتي ځواکونو له کورنیو سره د لیدنې پر مهال ویلي، هېڅ افغان دا نه مني چې د افغان ځواکونو امکانات، چې د وینې په بیه جوړ شوي، نورو هېوادونو ته د کباړو په حیث ولېږل شي.

هغه ویلي، سیاسي سوله په تدبیر، عقل او منطق کېږي. نوموړي دغه راز ټینګار کړی چې هېڅکله به هم داسې سوله ونه



مني چې پکې د افغانستان ملي ځواکونو ته صدمه ورسېږي.

بل لور ته اجرایه رییس عبدالله عبدالله هم له ټولو افغان سیاستوالو غوښتي چې د سولې بهیر کې دولت بابېزه ونه ګڼي؛ ځکه چې طالبان له دغو اختلافونو په ګټې اخیستو، خپل امارت تحمیلولی شي.

په ورته وخت کې طالبانو هم منلې چې د عباس ستانکزي په مشرۍ د دې ډلې لس کسیزه پلاوی د مسکو په ناسته کې ګډون او د افغانستان د راتلونکې په اړه به خپل دریځ روښانه کړي.

عبدالله د ځینو سیاسي مشرانو پر کارونو او دریځونو نیوکه کړې او ویلي يې دي چې دغه مشران باید له مخالفتونو سره سره د سولې د ټینګښت لپاره یو لاس شي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٤,۹۰ |
| € | ۸۵,٦۰ |
| Rp. | ۵۳٦ |
| ₹ | ۱۰٦۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۷,٤۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 12:00 |
| کابل - دوبی | 20:45 |
| کابل - ډهلي | 10:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
Daily
New Vision, New Journey




سه شنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې ۱٦مه | د ۲۰۱۹ د فبروري پنځمه | دویم کال | ۳۳۰مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ٤ | ٤ | ۱۰ | ٥ | ۱٥ | ۱۱ |
| -۸ | -٤ | -۱ | ۰ | ٥ | -۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰٥:۳۹ | لمر ختل ۰۷:۰۲ | ماسپښین ۱۲:۲٤ | مازیگر ۰٤:۰۸ | ماښام ۰٥:٤٦ | ماخوستن ۰۷:۱۰

## نړۍ




## امریکا: له مکسیکو سره په گډه پوله ۳۷٥۰ نور پوځیان ځای پر ځای کوو

د امریکا متحده ایالتونو دفاع وزارت ویلي، د امریکا او مکسیکو ترمنځ گډې پولې ته به ۳۷٥۰ نور پوځیان ولېږي.

د دغه هېواد د دفاع وزارت د چارواکو په خبره، د دغه کار موخه له سرحدي اجنټانو سره همکاري او هلته د ۲٤۰ کیلومترو په اوږدوالي د اغزن سیم د غزولو تنظیمول دي.

د دفاع وزارت له دغه اعلان سره به د امریکا په جنوبي پوله کې د مېشتو پوځیانو شمېر ٤۳٥۰ ته ورسېږي.

د دفاع وزارت په اعلان کې ویل شوي چې پر دې پوله د تازه دمه پوځیانو گومارل به د روانې سپټمبر تر ۳۰مې پورې دوام وکړي.

د امریکا د دفاع سرپرست وزیر پاټریک شاناهان څو ورځې مخکې ویلي وو چې دې پولې ته به څو زره اضافي پوځیان ولېږل شي چې په گډه پوله به اغزن سیم وغځوي او د سیمې د نظارت لپاره به د څار گرځنده سیسټم برابر کړي.

ولسمشر ټرمپ په دغه سرحدي سیمه کې روان وضعیت بحراني بللی او هلته یې د یوه لوی دېوال جوړولو لپاره د بودجې غوښتنه کړې ده، خو د دغه هېواد په کانگرېس کې ډیموکراتانو د بودجې له ورکړې سره مخالفت کړی دی.

## وزارت مبارزه با مواد مخدر:
## گزارش اخیر سیگار بی اساس است

SIGAR
SPECIAL INSPECTOR GENERAL FOR AFGHANISTAN RECONSTRUCTION

وزارت مبارزه با مواد مخدر افغانستان گزارش را نمی‌پذیرد که گفته است، باوجودیکه در ۱۸ سال گذشته ۹ میلیارد دالر در بخش مبارزه با مواد مخدر مصرف شده، اما هنوز هم این کشور بزرگترین کشور تولید کنندۀ مواد مخدر حساب می‌شود.

سید فیصل حسینی معین وزارت مبارزه با مواد مخدر افغانستان در این مورد به رادیو آزادی گفته است: «امکان دارد آن‌ها مراجع و آدرس‌های را که بالای آن مصرف کرده اند، اعلام کنند که ذهنیت‌های عامه روشن گردد، چیزیکه در زمان حکومت وحدت ملی به اساس یک پلان و فورم میان حکومت و کمک کننده‌ها به آدرس این وزارت مصرف شده پول بسیار اندک است، در حالیکه ۹ میلیارد بسیار زیاد است در این بخش وزارت ما جوابگو است».

اداره سرمفتش خاص امریکا برای بازسازی افغانستان یا سیگار نیز گفته است، در مناطق که طالبان در آن نفوذ دارند، در بیش از ۱۳۰ هزار هکتار زمین کوکنار کشت می شود.

در گزارش سیگار آمده است که مناطق که تحت حاکمیت دولت قرار دارد، در سومین بخش آن کوکنار کشت می‌گردد که شماری از مسؤلان نظامی و غیر نظامی در آن دست دارند.

پیش از این برخی مؤسسات خارجی نظارت کننده گفته بودند که در تولید و قاچاق مواد مخدر مخالفان مسلح دولت نیز دست دارند.

وزارت مبارزه با مواد مخدر نیز پیش از این بارها گفته است که در کشت، تولید و قاچاق مواد مخدر در کنار مخالفان مسلح دولت قاچاقبران داخلی و مافیای خارجی نیز دخیل اند و ضرورت است تا جامعه جهانی در این راستا به گونۀ دوامدار دولت افغانستان را کمک کند.


## اعلان داوطلبی

| شماره | جنس | مقدار | مارکه | صنعت | قیمت فی کیلو | قیمت مجموعی |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | آرد خوب سفید | 9.63 تُن | خوراکه | پاکستانی | | |
| ۲ | برنج چوچه سیله درمیانه | 4.815 تُن | درمیانه | پاکستانی | | |
| ۳ | روغن حیات/ حمزه | 2.889 تُن | مؤمن+ عزیز | إماراتی | | |
| ٤ | بوره میده سفید | 2.889 تُن | میده | پاکستانی | | |
| ٥ | لوبیا | 2.889 تُن | سرخ | ترکمنی | | |
| ٦ | قیمت تهیه وتوزیع وبارگیری و رساندن آن به اماکن توزیع | | | | | |
| ۷ | قیمت تیارکردن فی کارتن- کارتن با چاپ شعار دفتر علیه هر کارتن | | | | | |
| ۸ | قیمت مجموعی يك كارتن بادر نظرداشت همه مصارف فوق الذکر | | | | | |

سازمان بین المللی خیریه برای توسعه و انکشاف (IORWD)می خواهد از طریق شرکت ها ومؤسسات ذیربط که با ارکان های ذیربط دولتی ثبت وراجستر باشد، جواز فعالیت آن مدار اعتبار وتصدیق تصفیه حسابات مالی خود را از وزارت مالیه در دست داشته باشد، مواد فوق الذکر را خریداری نماید. بناءً شرکت ها ومؤسساتیکه دارای مواصفات فوق باشند، می توانند در داوطلبی شرکت کنند ونرخ خودرا إلی تاریخ ۹ / ۲ / ۲۰۱۹م از طریق ادرسهای ذیل به این دفتر تقدیم نمایند، تادیه مالیه به وزارت مالیه از بروزه فوق الذکر به دوش شرکت برنده می باشد ضم فوتوکاپی جواز همرای نرخ لازمی است ( اماکن توزیع- کمپ های بیجاشده گان در کابل ).

ادرس : شش درك خانه (۷)، نزديك دفتر ايج ايل، سرك عمومي، دفتر سازمان مذکور


ایمیل : iiro_kabul_4u@hotmail.com

تلیفون: 0093791220232

پوست بکس: (ص – ب – ۳۱۸۱ وزارت مخابرات کابل أفغانستان)


## ژوند

## دغه شیان هېڅکله په گوگل کې مه لټوئ




گوگل لټون د انټرنېټ نړۍ ته د ننوتو دروازه ده. هغه څه چې تاسو یې په گوگل کې لټوی، ستاسو پر تجربو او ورځني ژوند مستقیم اغېز کوي. دا سمه ده چې گوگل لټون ډېری وخت ستاسو سره د ستونزو په هواري کې مرسته کوي، خو ډېر کله هغه معلومات چې د نامسلکي کسانو لخوا په ناقانوني ډول د پیسو گټلو لپاره په بېلا بېلو وېبپاڼو کې ځای پر ځای شوي، تاسو غلط لوري ته بیایي او پر ورځني ژوند مو منفي اغېز کوي. دلته یې ځینو ته اشاره کوو:

**۱- د ناروغیو نښې**

لومړی یې باید د روغتیا له برخې پیل کړو. ډېرې وېبپاڼې شته چې د ناروغیو د نښو په اړه یې معلومات خپاره کړي وي چې تر ډېره دغه وېبپاڼې د نامسلکي کسانو په مرسته چلېږي. د ناروغیو د نښو په اړه په گوگل کې پلټنه تاسو ته د گټې پر ځای زیان رسوي او ډاروي مو.

**۲- جنایي جرمونه**

کېدای شي په ذهن کې مو در وگرځي چې بم څه ډول جوړېږي، د نشې ټابلېټ څخه ډول جوړېږي او یا دې ته ورته نور موارد. د جنایي جرمونو پولیس دغه ډول کسان څاري او د (IP) ادرس له لارې یې پیدا کولی شي. سرطان، د پوستکي ناروغي، خطرناک حیوانات، د هوا ککړوالی او دې ته ورته نور مسایل هغه څه دي چې په اړه یې پلټنه کول ستاسو ژوند گواښلی شي.